فرخنده لیاقت  په شاعرۍ کښې رومانیت د ډاکټر

**(تنقیدي جاج)**

# The colours of Romanticism in the poetry of Dr. Farkhanda Liaqat

# (A critical review)

Dr. Abaseen Yousafzai[1]
Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai[2]

## Abstract:

*The reality of the Romanticism is as clear as the sun. The romanticism started when the humane was facing the situations of instability and in secureness. The world changed and the slogan of change was raised by the writers who were also affected from the situations and theories of fundamentalists. The movement of romanticism was spread all over the world and also came through the ideas of Pashtoon. The Pashtoon male writer were also accepted that effects of the said movement. But in the parallel stream female writers were also accepted the positive changes in the same case. Dr. Farkhanda Liaqat is one of those writers who changed the meaning of romanticism to the real Pashtoon Romanticism which has the sweetness of Pashtoon culture and deep colours of Pashtoon values. The paper is going to discuss the colours of Romanticism in the poetry of Dr. Farkhanda Liaqat with a detail summery of Romanticism Movement.*

*Key words: Romanticism, progressive movement, changes in the stream of universe, colours of culture, pashtoon values.*

[1] Chairman Rahman Baba Chair, Department of Pashto ICP
[2] Lecturer in Rahman Babaa Chair, Department of Pashto, ICP

د دنيا نظام ته چې ګورو نو دا خبره ترې جوتېږي چې په دے کائنات کښې تغير ازلي دے او دغه تغير د کائناتو خاصه ده. د دغې تغير اثر د انساني ژوند ژواک سره سم د هغوي په ادبياتو هم خپل نقشونه پريږدي. ادب د ژوند هينداره ده . ادب چې په هر ځائے او هر قام کښې پيدا کيږي د وخت د بدلونو اثر اخلي.د اديب او ليکوال په لا شعور ددغې بدلون اثر ارو مرو کيږي.تخليقي عمل هم د جمود په دائره کښې خپل ځان نه بندي کوي بلکې د وخت او حالاتو سره سم غېر شعوري بدليږي هم او د وخت ترجمانه کيږي هم.هره لمحه چې په کائنات کښې کوم تغير او بدلون راځي هغه او د انسان ماحول په انساني فکر او تخليق خپل اثر کوي او د هغې په نتيجه کښې په تخليقي توان کښې هم بدلون راځي .ځکه چې ادب د ژوند نه پيدا کيږي او د ژوند ترجماني کوي.

په دې مقاله کښې به د رومانيت په ارتقائي سفر اجمالي بحث نه پس د ډاکټر فرخنده لياقت په شاعرۍ کښې د رومانيت جاج اخستے شي.ددې خبرې د مينځ ته کولو کوشش به کولې شي چې د فرخنده لياقت اسلوب روماني دے.

کله چې حالات د انساني طبيعت او فطرت مطابق نه وي او په معاشره کښې د مادې د تصور سره سم د اقدارو او رواياتو په مرۍ د خود غرضۍ ،لالچ او بې حسۍ ګوتې خښې کړي نو هلته تخليق کار هم د خپل قام د بقا او ژوند ته د ژوند د معنو ورکولو دپاره شعوري هڅې شروع کوي. د خپل تهذيب او ثقافت د بقا په خاطر اديب او شاعر د ژوند دپاره د نوي رڼا او بدلون په لټون وي. د جبر او ظلم زياتي په دور کښې مارغان هم په خپلو جالو کښې ساه ورکوي نو په ادبي تخليقاتو خو ددغې حالاتو منفي اثر ارو مرو وي. او چې بيا دغه ناروا پابندۍ او قدغنونه وي نو زيرک او فهيم ليکوال د تزکيه نفس دپاره نوي لارې چارې لټوي او د خپل زړۀ براس اوباسي. د رڼا د سفر په لار کښې که هر څومره خنډان راشي خو ولې بيا هم د رڼا سفر جاري وي او تيارې خپلې معنې بائيلي. د لفظونو فرهاد تېشه په لاس د جبر غرۀ ته قلم په لاس ولاړ وئيلي وو . وي.غالب ډېر مخکښې

رکتی ہے میری طبع تو ہوتی ہے رواں اور پاتے نہیں جب راہ تو چڑھ جاتے ہیں نالے

رومانیت د جبر په ماحول کښې د فکري ازادۍ او نوي رڼا راوړلو امید ورکوي.دا یو حقیقت دے چې د ظلم مانۍ زر نړیږي .کله چې یو باضمیره قلم کار قلم پورته کوي نو د ظلم او جبر تیارې شلیږي.د ادیب دغه کردار د معاشرې د پاره د نوي سپین سبا زېرے وي.په ادب کښې رومانوي تحریک هم د دغسې حالاتو نه پیدا شوے دے.د رومانیت پلویانو د ظلم او جبر خلاف قلم پورته کړے وو او شۀ په نره ئې لیکونه کړي وو.رومانیت په عالمي ادب خپل پاخۀ نقشونه پرېښې دي.داوېنا به بې ځایه نه وي چې د تېرې صدۍ روښن خیالي ،خشکه او وېزارووونکي سائنسي ترقي او انداز فکر ،د ساه ډوبې مقصدیت او حوس خلاف رومانیت د بغاوت آواز پورته کړو.سائنسي انداز فکر لطیف جذبات،قلبي احساسات ،او بې لوثه محبت په عمومي توګه نظر انداز کړے وو.رومانیت هم په دغه رنګینو او زړۀ راښکونکي جذبو توجه ورکړه او ژوند له ئې نوے رنګ ورکړو.د دوي اواز هم دا وو چې اولسي ادب، اولسي قیصی ، او مابعدالطبیعاتي عناصر د ادب د جمالیاتي تفهیم د لارې اوروړکي دي. رومانیت د دے حقیقت نه پرده پورته کړه چې د فن د تخلیق په وخت د تخلیق کار جذبات او احساسات په کار راځي او هغه د نورو د جذبو ترجمان وي.هم په دغه اساس د خپل تخلیقي فعالیت د پاره لارې ټاکي .په برطانیه کښې چې کومو شاعرانو لطیفو جذبو او قلبي احساساتو له په خپل اسلوب کښې ځائے ورکړے دے په هغوي کښې وردس ورت، کالرج،ولیم بلیک ، لارډ بائرن، شیلے او کیټس شامل دي.فرانس کښې وکټر هیوګو، امریکه کښې ایډ ګرایلن پو، واشنګټن اروِنګ او روس کښې الیګزنډر پشکن د رومانیت علم بردار وو.دغې تخلیق کارانو صداقت او قلبي سکون له په مربوطه طریقه په خپل انداز په خپل فن کښې ځائے ورکړې وو.رومانیت د فکر او خیال ازادۍ او تخلیقي عمل له داسې رنګ ورکړې دے چې هغه د فطرت د مقاصدو د ترجمانۍ سره د فطرت د تقاضو امین ګرځیدلې دې.د دې سره سره رومانیت د تخیل شادابي هم په ځان کښې ځائے کړې دہ. عقلیت په ځائے ئې تخیل ته توجه ورکړې دہ.او بعضې وخت داسې لګي چې هغوي د مافوق الفطرت عناصرو پله هم نظر لري.عقل هوشیار دے

او د مصلحتونو نه کار اخلي او عشق او محبت او رومان خپله يو مسحوره فضا لري چرته چې هر کس ته د زړهٔ سکون تر لاسه کېږي.رومانيت تکنيکي خلوص د عملي کولو په غرض قدم پورته کوي. د ظلم او جبر په ماحول کښې چې زړهٔ او روح د پريشانۍ او بې يقينۍ د کيفيت نه تيريږي او نا اميدي د هر چا زړهٔ رنځوي نو رومانيت په داسې وخت کښې د انساني درد د دوا کار کوي.رومانيت د هيئت او تکنيکي مروجه رواياتو نه مخ اړوي او په ډېره نرمه او خوږهٔ پسته لهجه کښې د ژوند سندرې زمزمه کوي.په ژوپل احساس د پهو ايخودو سره سم داسې خبرې کوي چې د زړهٔ تل ته کوزيږي او په زړهٔ کښې لارې کوي.رومانيت دې فکر له دوام ورکوي چې لکه څنګه چې د بصارت دپاره د رڼا ضرورت وي دغسې عقل د پاره د حسن او ښائست ضرورت وي.رومانيت ته د کلاسيکيت ضد وئيل هم ټيک نه دي بلکې حقيقت دادې چې رومانيت د داخليت خبره کوي او په خپل نوعيت کښې د حقيقت پسندۍ ضد دے.د رومانيت زيګون د حسن د دلفريبۍ ،تحير ، ندرت او حيرانوونکي تصوراتو د کمرو نه پيدا کېږي.د ژوند د ترخو حقائقو او واقعيت نه د تېښتې کيفيت ئې په اسلوب کښې شامل دے نو څکه خپل لوستونکي د خيال د وادۍ په لور لاس نيولې بوځي. ډاکټر سيد عبدالله د رومانيت په حواله ليکي:

”رومانیت کا ایک ڈھیلا ڈھالا سا مطلب یہ ہے کہ یہ ایک ایسے اسلوب اظہار یا انداز احساس کا اظہار کرتی ہے جس میں فکر کے مقابلے میں تخیل کی گرفت مضبوط ہو، رسم و روایت کی تقلید سے آزادی خیالات کوسیلاب کی طرح جدھر ان کا رخ ہو، آزادی سے بہنے دیا جائے۔ “[i]

د ژوند رنګونه په اقدارو او رواياتو هم اثر پرېباسي.هر انسان دا ګڼي چې د ژوند سفر متوازن دے.خو د انسان لاس کښې نه واګې دي او نه ئې پښې په رکاب.دا کائنات لا نيمګړے دے او لا اوس هم د کن فيکون صدا نه داسې لګي چې په نظام کائنات کښې لا اوس هم مسلسل بدلون روان دے. دا هم حقيقت دے چې شدت که په تخيل کښې وي او که احساس کښې د هغې په شا رومانې سوچ وي .دا سوچ تخليقي عمل داسې چمتو کوي چې ددې په معجزه نما اثر د فکر او نظر نوې لارې جوړيږي.اروڼګ ببټ د رومانيت د سوچ په حواله ليکي:

”رومانوی ذہن اپنی مثالی دنیا کے تصور میں سرشار گرد و پیش کی ٹھوس حقیقتوں سے قطع نظر کرنا چاہتا ہے“[ii]

روسو ته حسن د ارواح په هر فعل کښې نیکي ښکاریده .روسو په خپل رومانې تخیل کښې د یو کس انا او انفرادیت له دومره ارزښت ورکوي چې د هغه خیالات نه صرف د روایت نه په کلي توګه انحراف دے بلکې بعضې وخت خو دا خیالات د روایت نه د بغاوت صورت اختیار کړي.هغه روح جمال د هر کار دپاره حقیقت ګڼي او د هغه هر کار ته په درنه سترګه ګوري.تر دې چې هغه شیطان هم د یو رومانې کردار په طور پیش کوي.رومانیت د خپل خارج نه بهر په هیڅ شي خپل چرت نه خرابوي.چې څۀ کیږي او څنګ کیږي او ژوند کښې څۀ لاندې باندې روان دے په دې ئې هیڅ کار نشته.هغه ددې هر څۀ نه په قطع تعلقۍ زور ورکوي.د خپلې انا نه سیوا ورته نور هیڅ نه ښکاري.د کلاسیکي او رومانې سوچ تر مینځه فرق ګرېر سن داسې واضح کوي:

” تاریخ میں ان کی مثال قلب انسانی کے گھٹنے اور بڑھنے کی حرکت سے دی جا سکتی ہے۔ کلاسیکی ادب کی تحریک نظم و ضبط، مختلف اشیا کے امتزاج فکر جذبات اور عمل کو ایک ترتیب کی طرف لے جاتی ہے لیکن رومانوی تحریک کا دائرہ وسیع ہے اور یہ تحریک اہل قلم کو کلاسیکی ادب کے مقررہ اصول کے خلاف آزادہ روی اور شدت کی طرف لے جاتی ہے“۔ iii

رومانیت د رنګ، خوشبو ، حسن او خوبۍ سره د صوت او آهنګ ټولې استعارې په خپل اسلوب کښې رانغښتې دي.د رومانیت پلویان د ادراک د سرحدونو نه هم د حسن د سرچینو پسې تېر شوي دي.د حسن نه هېریدونکي منظرونه،د رشک او تحسین قابل کارنامې او د ابدي وجدانې جلوو دې ویړ کائنات ته بلها رنګینۍ بخښلې دي.او چې څوک هم دا سوچ کوي چې دا لمحې او ورځې شپې چې څۀ هم راوړې هغه مونږ د کشف په لور بیائي او هم دغه د کشف صحیح لار ده.رومانیت د شعر و ادب د مطلقاتو ټول نظام بدل کړې دې.رومانیت قوت ،جوش،جذبې،بې چېنۍ، بې قرارۍ،اضطراب،روحانیت،مشکل پسندۍ،د ازادۍ ارتقا،مسلسل تجربې او مشاهدې او مسلسل هڅې ته د نوي سر نه نوي معنې او منفرد انداز ورکړو د ژوند یو اړخ داسې نشته چې پکښې د حسن جلوې نه ښکاري.تر دې چې د کائنات هېبت ناکو منظرونو کښې ، دمرګ په اذیتناکو لمحو کښې ،وېرووونکي سانحو کښې، دشتو او بیابانونو کښې ،د مقبرې د سکوت او ساه ډوبې تنهائۍ په کیفیاتو کښې هم رومانیت ته حسن ښکاري.شیلے د یونان د دیو مالا حسینې مېډوساپه حواله لیکي:

یہ دہشت کی خوب صور ت دیوی ہے
کیونکہ سانپوں سے پیتل کی چمک پیدا ہوتی ہے
شاید یہ کسی حل نہ ہو نے والی غلطی کا نتیجہ ہے
جس سے فضا میں ایک ہیجانی کیفیت برپا ہے
یہ تصویر ایک لا زوال چمکتا ہوا آئینہ ہے
جس میں سر ا سر حسن اور دہشت نظر آ تی ہے
ایک عورت کا چہرہ اور بالوں میں سانپ
یہ گویا ان بھیگی ہوئی پہاڑیوں سے ابد کی طرف رخ کیے ہوئے ہیں۔ iv

د فرانس نامتو شاعر چالس بود لئیر (۹م اپریل ۱۸۲۱ء نه ۳۱ اګست ۱۸۶۷ء) د مېړوسا د سر نه د هغې د حسن لټون کړې وو د هغۀ انداز فکر د رومانیت د خوشۀ چینئ مظهر دے.د هغه نظم "حسن کې جناب" نه یو اقتباس پېش کووم:

اے حسن کی دیوی !تو آسمان سے اترتی ہے یا جہنم سے آتی ہے
اس بات کو سمجھنا بالکل بے کار ہے
اے حسن کی دیوی !تو ایک عجیب الخلقت ہستی ہے، دہشت ناک مگر سادہ

تیری چشم (فسوں کار )تیرے تبسم (جانفزا)اور تیرے قدم نے
میرے لیے ابدیت کا دروازہ کھول دیا ہے، جس کو میں پسند کرتا ہوں اور جس سے میں واقف تھا۔ v

د روسو اثرات د دینس دیدیروت په افکارو کښې موجود دي.هغۀ د روسو فطرت پسندئ ته په درنه سترګه ګوري ،کله چې هغۀ وائي چې د دنیا هر شے ځکه ښکلے دے چې د کائناتو خالق دا پخپل لاس جوړ کړې دي. خو کاؤنټ ساډے دډۀ په شان نه وو بلکې یو شیطان فطرته سړے وو چې په هر څۀ کښې به ئې منفي اړخ لټوو.دې ابلیس نژاد کس ته هم دډۀ سره منسوب دے.د هغه sadism هر څۀ د شیطان تخلیق ښکاریدو. خوي اذیت ورکول وو. هغه له به دې ډېر خوند ورکوو چې بل ته اذیت ورکړي.خو د هغه هم عصر ګان کوروټ د هغه د مکر او فریب نه پرده پورته کړه او هغه ئې داسې جنسي جنوني ثابت کړو چې د چا نظر د خېر په ځائے په شر وي.د هغۀ قابل نفرت شهواني جذبې ئې د

هغۀ د لیونتوب اثر وګڼلو. هم د هغې دور یو نامتو ناول نګار سموئیل رچرډسن(۱۹م اګست ۱٦۸۹ء نه ٤مې جولائی ۱۷٦۱ء) په خپل اسلوب کښې رومانیت له توجه ورکړه او په شعوري توګه ئې روماني ناولونه تخلیق کړه.د هغۀ ناول پامیلا (۱۷٤۰ء) او کلیریسا ډېر مشهور شوې وو.د دې نه علاوه په فرانس کښې وکټر هیوګو،نامتو ناول نګار او مؤرخ الیګزنډر ډیوما،او الفریډډي میوسټ په خپلو لیکنو کښې رومانوي تحریک ته دوام ورکړو.مغربي رومانوي تحریک تخلیق کار او قاري دواړه د زوړ روایتي انداز پرېښودو او نوي انداز فکر خپلو ته مائله کړل.او دغسې فهم او ادراک ته د الوت دپاره نوې لارې جوړې شوې.دغسې زړونو ته یوه نوې جذبه په لاس وراغله.په دې تخلیقي عمل لاشعور طرف ته رجوع شروع کړه.دا به مبالغه نه وي چې رومانیت د لسانیاتو،هیئت او تخیل زړې لارې چارې او نظریات پرېښودې او ددې په ځائے ئې فکر او خیال نوې دنیا جوړه کړه.په دغه دنیا کښې چې په تخلیقي سطح دکومې تنوع ،رعنائی ،راښکون او بوقلمونی پیدا کولو هڅې وکړې شوې د هغې په اعجاز د مفاهیمو او معنو د زړۀ او نظر د مسخر کولو توان لا نور سیوا شو.رومانیت په موضوعاتو کښې ندرت ،وسعت او تنوع پیدا کړه.او هم دغسې د تخیل په لاره کښې چې کوم خنډان وو دهغې د لرې کېدو امید پیدا شو.تخلیق کار ته د خپلې خوښې او مرضی د اظهار لاره جوړه شوه او داسې په اسلوب ټول قدغنونه د وېخ نه د ویستلو سلسله شروع شوه.او ددې په نتیجه کښې د فن د تخلیق په وخت د حسن د بوډۍ د ټال رنګونه په هر اړخ خواره شو.

ادب په روماني او کلاسیکي اعتبار ګوئټے تقسیم کړو.د یورپ په ادبي تاریخ کښې دا تحریک د دریو دوورنو نه راتېر شو.وړومبے دور هغه وو چې د یوري پي ډیز د ډرامو نه ئې ابتدا وشوه او اختتام ئې د افلاطون په مکالمو وشو.دویم دور کښې د دولسمې او دیارلسمې پېړۍ افسانې شاملې دي.دریم دور د اتلسمې پېړۍ د دویمې نیمائی نه تر نولسمې پرړۍ د وړومبنی نیمائی پورې دے.

روسو د معاشري د غمونو ،الم ناکو حالاتو او جبر د اذیت ناک ماحول خلاف شۀ ډاډه لیکنې وکړې.د هغه په لیکونو کښې د سماجي ژوند د بې انصافیو،معاشرتي تضاداتو او استحصال خلاف چې په کوم انداز اظهار وو د هغې په برکت په فرانس کښې د بیدارۍ یوه هوا

شروع شوه او دغسې د فرانس انقلاب ته لاره سمه شوه. هغهٔ د انسان آزادی ته د پېښو خطرو او د جبر د ماحول خلاف پوره احتجاج وکړو. هغه ته ددې خبرې ډېر احساس کېدو چې قدرت خو هر انسان په آزاد حیثیت کښې پیدا کړې دے خو بیا هم د جبر ماحول د هغه په پښو کښې د غلامۍ زنځیرونه اچوي. دغسې په اردو ادب کښې هم چې کله د ۱۸۵۷ء د ناکامه جنګ نه پس د حالاتو تقاضې بدلې شوې نو سر سید احمد خان او نورو مکرو ئې سائنس، فلسفه، مقصدیت، عقلیت پسندي، اصلاح او د نوي احساس پیدا کولو دپاره کار شروع کړو نو ددې سره سم د ویزاروونکي یکسانیت او انجماد، ثقالت او غېر معمولي سنجیدګۍ یوه ساه ډوبې فضا هم پیدا شوه. په اسلوب کښې دغه ناصحانه انداز د عام لوستونکي دپاره یو رنګې د ساه ډوبۍ صورت اختیار کړو. بې خونده او بې مزې تخلیقاتو کښې د یو عام وګړي دلچسپي کمه شوه. سر سید او د هغه نورو مکرو په دغه وخت د ملي اصلاح د کارونو ابتدا وکړه کله چې استعماري قوتونو په دې بر اعظم کښې سماجي، معاشرتي، اقتصادي، سیاسي او تهذیبي او ثقافتي خانګې په مکمله توګه د تباهۍ په سمندر لاهو کړې وې. په دغه حالاتو کښې په ادبي تخلیقاتو کښې مقصدیت، مادیت، عقلیت، اجتماعیت، حقیقت نګاري او اصلاح د مطلب توکي ټاکلي شوي وو. خو په ادب دغه نوعیت لرونکي توکي د وخت د ضرورت تابع ګڼلے شي او بیا د ادب د لوستونکي د نوي بدلون ضرورت محسوسوي. ډاکټر سید عبدالله د علي ګړ تحریک د مقصدیت د ردعمل په حواله لیکي:

”سر سید کی بے انتہا مقصدیت کے بعد اودھ پنچ اور اکبر الہ آبادی کا ظہور بالکل قدرتی اور نا گزیر تھا۔ یہاں تک کہ خود پیروان سر سید کے یہاں سے شرر کی تاریخی ناول نگاری اور علی گڑھ کی رومانیت بے ساختہ طور پر ابھر آئی۔“[vi]

اردو ادب کښې د رومانیت دور د ۱۹۰۰ء نه د ۱۹۳۵ء پورې وو او ددې سره سم په پښتو ادب کښې هم درومانیت تحریک د شلمې پېړۍ په ابتدا کښې د اسلامیه کالج نه هغه وخت شروع شو کله چې سید رسول رسا، شیدا، ډاکټر اعظم اعظم او نورو همکارانو د وخت د تضاداتو او جبر په ردعمل کښې د خپلو وګړو دپاره د نوې دنیا جوړولو تابیا وکړه. دغه قافله کښې د ډېرو نورو ځوانانو سره اوګه په اوګه ډاکټر اباسین یوسفزے هم مسکه غړۍ تند او تاند

راروان دے. ددغې تحریک غیر شعوري اثرات نن هم د پښتو ادب د تخلیق کارانو په فن کښې موندلې شي ځکه چې نن هم د حالاتو د جبر انداز هغسې دے او نن هم د مشینی دور د انسان د خپل ذوق د تسکین لارې لټوي.نن هم انسان د خپل وجود د ادراکاتو د مفاهیمو په تلوسه کښې لیواله او سرګردانه ګرځي.دنارینوو سره سمه په دغه قافله کښې یوه شلډله بډله پښتنه، د نن دور په دغه روسوي تخلیق کارانو کښې ډاکټر فرخنده لیاقت هم ده چې د خپل لوړ پښتون احساس له کبله د معاشرتي ژوند په هر ډګر د خپل متنوع فکر پلوشې خوروي.ډاکټر اباسین یوسفزے لیکي:

" فرخنده بي بي د اعلي تعلیم پاوجود ډیره ساده باده او شلډله بډله پښتنه مېرمن ده.دوه مخي یا بي مخي نه ددې عادت دے او نه ورسره خوند کوي."[vii]

پښتنه یمه پښتو هم زما ژبه ده هم غیرت دے

په پښتو کوومه فخر زهٔ پښتو خورول غواړم[viii]

د خپلې پښتنې معاشرې د وګړیو د فکري ترجمانئ سره سم د فرخنده محبتونو د جذبو ترجماني هم په خپل ځانګړي انداز کوي.هغه د خپل اولس د پاره د خپل قلم نه د قافلې جرس جوړ کړے او د خپل قام د وګړیو د پاره د یوې شمعې په شان خپل کردار ادا کوي.همیش خلیل لیکي:

" زمونږ په معاشرتي ژوند کښې د صنف نازک سره د جهالت د زماني د رسم و رواج په وجه چې اوس هم کوم ظلم کیږي،متعلق د فرخنده لیاقت قلمي هلو ځلو ته که جهاد ووئیلے شي نو مبالغه به نه وي.ددغه قلمي جهاد په حقله زمونږ نورو پښتنو خوئندو هم پخپلو شعرونو کښې کوم کوششونه کړي دي.هغه باغیانه ناري نن هم په فضا کښې تنديږي."[ix]

د فرخنده په شاعرئ کښې د ماحول د ویزارئ نه دتیښتې تمنا ، وروروولي، امن اویووالي او د زړهٔ د سکون ارزو سره د فطرتي ښکلا د تکل مضامین پریوانه په لاس راځي.د هغې د کلام نه ادا

محسوسیږي چې هغۀ ځان له د نوي دنیا جوړولو په تکل کښې ده. هغۀ د خپلې دنیا د بدلون خواهش لري.د هغه په تخلیقاتو کښې خو د حالاتو د بدلون ارزو شته خو د روزکار د آلامو په طوفان کښې هغه د خپلې خیالي دنیا په جستجو کښې په سرابونو پسې ورکه محسوسیږي.او لکه دساغر نظامي ئې ژوند د سپرلو په ارمان تېرېږي او د خپل ذات د تکمیل سره سم ئې د رومان رنګونه د شعر په پېکر کښې لکه د ساه غړېږي .هغې ته ددې خبرې ادراک هم شته چې ښځۀ د کائنات د تکمیل یواځینې راز دے.د حسن او عشق مضامین د مېلم فرخنده په روماني شاعرۍ کښې پریوانه موجود دي.یو خوا پکښې د خپل قام سره قلبي ترون دے نو بل خوا د انسان دوستۍ پله ئې هم ښۀ توجه ورکړې ده.ددې سره سم هغې د رومانیت او ښځې د مینې په حواله هم ښۀ په جرات سره قلم پورته کړې.ډاکټر سلمه شاهین لیکي:

" ما چې " څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا " د فرخندې د شاعرۍ مجموعه ولوسته خوشحاله شوم چې د نظم او غزل په صنف هم پوره عبور لري او د مضامینو په بیانولو هم قدرت لري.زیاته شاعري ئې ډېره روماني ده او پکار هم ده چې تر دې وخته رارسیدونکي د ښائسته شخصیت مالکه هم روماني شاعري ډېره ښۀ کولې شي. د خپل احساس او جذبې د پټولو کوشش ئې نه دے کړے."x

او چې مونږ ئې د شاعرۍ دغې رنګونو ته ګورو نو هم دغه خبره ترې جوتیږي چې د خپلو جذبو سره منافقت نه کوي.

ستا دې نرمو شونډو عجیبه غونډې خونړ راکړلو

هېر مې ټول خوارۀ شو د خوږو خبرې مه کوه

جوخت مې شه زړګي ته ګله ورځ د خوشحالۍ ده نن

خپل حالونه وایه د پردو خبرې مه کوهxi

او يا دا چې

سترګې مې پټې وې دنيا راته جنت جنت وو

د زړه ارمان مې رژيدو راسره ته څنګ کښې ته وې

په سترګو سترګو کښې خبرې وې په خلهٔ چپ وو

بس محبت محسوسيدو راسره څنګ کښې ته وې[xii]

ډاکټر نصرالله جان وزير ليکي:

" ډاکټر فرخنده شاعره ده او دهغې شاعري د هغې د قلبي وارداتو ، د خپلو ارمانونو ، خوبونو،خيالونو،د خپل ماحول او دخښتني چاپيريال هينداره ده."[xiii]

او بيا وړاندې ليکي:

" هغې په دې لړه غندې شعري تولګه کښې نه يواځې د خپل ځان احساسات او واردات بيان کړي دي بلکې د کلهم انسانيت احترام او د انسان د قدرداني ، مينې او ورورولئ قائله ده.د شعر پيغام او مرام ئې هم دادے چې ددنيا يو ځو ورځې ژوند دے ، بيا راتلهٔ په جهان د چا نهٔ شته ځکه له يو بل سره په مينه او ورورولئ ژوند تېرول پکار دي."[xiv]

فرخنده په بنيادي توګه يو دردمنده روماني شاعره ده.د جذبو شدت او صداقت،د لهجې قوت او تاثير،د حسن او رومان پريواني،د شباب او بدلون ارماني شاعري هغهٔ د نورو نه ځانګړې کوي .د هغې په اسلوب کښې ندرت، شګفتګي، منظر نګاري او د محبت جذبې لوستونکي په خپله ولقه کښې داسې واخلي چې د رنګونو په معنو ئې پوهه کړي.د هغې په شاعرۍ کښې د رومان رنګونه په کراتونو موجود دي.هسې خو د مېلمه شاعري د ډېرو رنګونو نه جوړه ده خو مونږ ترې دا يو څو نمونې د مثال په توګه وړاندې کوو.

دسپرلي مستي به څهٔ وي ستا د سرو شونډو په وړاندې

سرهٔ شراب دي په پياله کښې بې خودي ئې بې خودي ئې

د بنګړو نه ډکې ليچې او دا سپين مړوندونه
چې شرنګار کړي زړۀ مې درز وی تباهي ئې تباهي ئې
ستا نازک نازک بدن دے د تازه ګلونو لښته
يو احساس د زندګۍ ئې تازګي ئې تازګي ئې[xv]

او يا داچې

نن شپۀ د وصال ده ټوله شپۀ به ګورو يوبل ته
نن راته د تېرو شوګيرو خبرې مۀ کوه
سم لکه د وينې ياره تن کښې مې خور شوې ئې
اوس مې د زړګي نه د وتو خبرې مۀ کوه[xvi]

او يا دا چې

زړۀ مې بائيلو هوش مې بائيلو اوس به څۀ کړم
راکړه لاس ګنې د غمه دې مړه کيږم
درسته شپۀ دې په فرقت کښې پې قراره
لکه شمع په سور اور ټوله ژړيږم[xvii]

د فرخنده لياقت "څۀ حقيقت څۀ د خوبونو دنيا" شعري ټولګه کښې د حسن او رومان ،جذبات نګارۍ،فطرت نګارۍ او لفظي پيکر تراشۍ بلها نادرې نمونې په لاس راځي.د مېړه د شاعرۍ د تاج محل بنياد د ځوانۍ د دور د بې فکرۍ، خود نظرۍ،لطيفو جذباتو،د سوز او

ګداز د احساساتو، د سلګیو او خنداګانو،حسرتونو او ارزوګانو په پخو توکیو داسې مستحکم ولاړ دے چې د فن "میوز " ورته هم حیرانه ولاړه ده.د هغې د شاعرۍ د رومانې او متنوع رنګونه لکه د بوډۍ د ټال د پښتون رومان په شفق د خپلو پلوشو سره امر کیږي.

Pukhtunkhwa Journal

# حوالـې

[i] عبدالله ،سید،ڈاکٹر ،مباحث، مجلس ترقی ادب، لاہور، طبع اول۱۹۶۵، ص۳۹۲

[ii] سجاد باقر رضوی ،ڈاکٹر ،مغرب کے تنقیدی اصول، کتابیات، لاہور، طبع اول ،۱۹۶۶ء، ص۳۱۸

[iii] پاشا رحمان ،تخلیقی ادب، عصری مطبوعات، کراچی، جلد اول، ۱۹۸۰ ، ص۱۶۱

[iv] پاشا رحمان ،تخلیقی ادب ،ص ۱۶۶

[v] پاشا رحمان،تخلیقی ادب، ص ۱۶۵

[vi] سید عبدالله، ډاکټر، اردو ادب 1857تا1966، مکتبہ خیابان ادب، لاہور، طبع اول، ۱۹۶۷،ص۵۳

[vii] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،عامر پرنټ اینډ پپلیشرز،پېښور،۲۰۱۶،فلپ

[viii] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص۷۸

[ix] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا، ص ۳

[x] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا، ص۹

[xi] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص۳۸

[xii] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص۳٤

[xiii] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص۱۷

[xiv] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص ۲۱،۲۲

[xv] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص ۳۶

[xvi] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص۳۹

[xvii] فرخنده لیاقت،ډاکټر، څۀ حقیقت څۀ د خوبونو دنیا،ص ٤۷